پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۶/۲۶

# مهاجراوښان، مهاجر اوښبانه

## (له زیارونو او یاړونو ډک ژوند)

افغانانو په استرالیا کې له کړاوونو ډک، خو وياړلی ژوند تير کړی دی چې د وياړ او زيار نښې يې اوس هم په استراليا کې شته. په استراليا او نړی کې يې يوه وياړلې نښه د ريل هغه کرښه ده چې د «» په نامه ياديږي او اوس هم فعاليت لري.

ما د ۲۰۱۲ کال د نومبر په يولسمه د يوې اړتيا له مخې د « افغانان په آستراليا کې » تر سر ليک لاندې مقاله خپره کړه. پتې يې دا دي:

ـ افغان جرمن آنلاين، ـ ټول افغان،

پخوا هم په دې باب مقالې او کتابونه ليکل شوي وو، چې ما يې په مقاله کې د ځينو يادونه کړې هم ده، خو اوس يې بيا په ميډيا کې کله نا کله يادونه کيږي چې تر ټولو ښه، مستنده او علمي مقاله او راپور د ښاغلي داوود اعظمي دی چې په بي بي سي پښتو کې د ۲۰۱۶ کال د جون په پنځه ويشتمه نيټه آنلاين شوی دی.

ما هم اړينه و بلله چې په ۲۰۱۲ کال کې مې هغه ليکلې مقاله، د ځينو ټکو د لا روښانتيا په خاطر له يو څه سمونو وروسته يو ځل بيا خپره کړم:

## «افغانان په استراليا کې»

## مهاجر اوښان، مهاجر اوښبانه

## (له وياړه ډک ژوند)





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دا د افغانانو له رنځونو ډک تاریخ یوه زرینه او رنګینه پاڼه ده، له رنځونو ډکه، له وینو پاکه ده، خوله وياړونو داسي وياړمنه چي هر افغان پري وياړلی شي او په هسکه غاړه يي يادولای هم شي.
د BBC په فارسي برخه کي مي د « استقبال هراتي ها از ساربانان افغان در استراليا» (١) او په «darivoa» کي مي « افغان های ساربان دراستراليا...» (٢) سرليکونو پام ځانته واړاوه، ليدو ته يي تږی شوم. تر را اړولو پوري مي د ذهن کمپيوتر د استاد پوهاند حميدالله امين نوم او په همدې اړوند د ده په قلم ليکل شوی او ژباړل شوی اثر (افغانان په استراليا کي) مخي ته غوړيدلی کيښود. لومړی خو مي داسي انګيرله چي ګني د پوهاند حميدالله امين پر اثر به يي کوم توصيفي يا انتقادي څه ليکلي وي، خو ډير ژر زما قياس ناسم وخوت. موضوع کټ مټ د پوهاند حميدالله امين د کتاب موضوع وه؛ نه د مقالي او کتاب په ډول، بلکي د يو فلم په چوکاټ کي. د فلم او د فلم جوړونکي په باب، د بي بي سي راپور ليکونکي ښاغلي محمد قاضي زاده د موضوع په اړوند خپل راپور او معلومات د زړه سوي له مخي ډير ښه ليکلی دی، خو يوه خبره يي د تأمل وړ ده: « ... يک شهروند استراليايي در سال ١٩٨٧ کتابی در مورد افغانان ساربان نوشته بود، اما کاری ديگری در اين زمينه صورت نگرفته است.»(١،دويم مخ)؛
ښايي ښاغلي محمد قاضي زاده د موضوع په اړوند د پوهاند حميدالله امين اثر(افغانان په استراليا کي ) له نظره نه وي تير کړی چي په قطعي ډول يي حکم کړی چي په استراليا کي د افغانانو په باب نور کار نه دی شوی. کارونه به شوي وي، چي يو په کي د امين صاحب اثر دی.
دځوانانو په ځوانی دي برکت وي چي د فرهنګي کارونو په لړ کي داسي نوښتونه کوي، چي د غربت په دې پردي چاپيرياِل کي په ربښتيا په زړه کي د اميد زري غوړوي، اميدونه ورته پيدا کيږي او د افغانانو د راتلونکي فرهنګ ښکلی اوغوړيدلی انځور تولو ته په مخ کي ږدي.
د ميديا د راپورونو له مخي، په دغو ځوانانوکي يو هم فهيم هاشمي دی چي په استراليا کي د سر ګردانو مهاجرو افغانانو کراوجن، خو وياړمن ژوند يي د يو مستند فلم په ښه جوړ او ترتيب کړی دی. زه نه فهيم هاشمي پيژنم او نه مي فلم ليدلی دی، ځکه د ده او د ده د فلم په باب څه نه شم ويلای، خو ترهغه ځايه چي ما ته له افغانستانه بهر، په تيره بيا استراليا کي د افغانانو د ژوند ځرنګوالی مالوم دی، دا موضوع، هغه هم د يو مستند فلم په چوکاټ کي، ډيره نوې، په زړه پوري ده؛ ځکه د موضوع په اړوند لنډ، خو، په زړه پوري مالومات له لوستونکو سره شريکوم.

## لومړی د کتاب ليکوال، پوهاند حميدالله امين:

پوهاند حميدالله امين د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي د جغرافيي د څانګي يو پياوړي او د حساب وړ استادو، چي بيا وروسته له ادبياتو پوهنځي څخه د راجلا شوي نوي ځمکپوهني پوهنځي په چوکاټ کي د مهاجر کيدو تر وخته تدريس کاوه.
ما چي په ١٣٥٥ کال کي د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي په لومړي ټولګي کي درسونه پيل کړل، پوهاند حميدالله امين مي د لومړي ځل له پاره د وړمي مجلي په دفتر کي له پوهاند زيار سره وليد. وروسته له فراغت نه چي په علمي کدرکي شامل شوم، د کابل پوهنتون د علمي خپروني،«اجتماعي علوم» نومي خپروني د مرستيالی د دندي وياړ هم را په برخه شو. په همدغه وخت کي پوهاند حميدالله امين، کله کله نه، بلکي ډير ځله د مجلي دفتر ته راته، خپلي مقالي به يي د نشر له پاره راوړې او د مجلي له مسؤل مدير پوهاند رحيم الهام سره به يي تل علمي بحثونه کول. ده پوهنتون او علمي چاپيرياِل خپل کور ګاڼه او ډير به په کي خوشاله و، داسي وخت هم راغی چي د بې شميره ستونزوله امله د دغه محيط او دغه کور پريښودلو ته اړووت، هر څه يي پريښودل، کډه شو او سر او غږ يي له استراليا نه را پورته شو؛ څنګه چي ليکنه، څيړنه او ژباړه يي په يو دايمي عادت باندې بدل شوي وو؛ نو هلته هم لکه د نورو فرهنګيانو په څير آرام پاتي نه شو، د علم ډيوه يي بله وساتله، د پام وړ ليکني يي وکړې، چي ده مدغو هڅو په پايله کي يي يو د قدر وړ اثر« افغانان په استراليا کي » نوميري، چي په ٢٠٠۶ م کال کي چاپ او خپور شو.
په استراليا کي دافغانانو د ژوند د څرنګوالي په باب، سيمه ايزو ليکوالو او ژورنالستانو هم آثار او مقالي ليکلي دي، چي په خپل ځای د قدر وړ دي، خو د استاد پوهاند حميدالله امين د وينا پر اساس په ټولو کي د پاملرني وړ اثر دکريستيان ستيونزاثر( Tin Mosquss and Ghan Towns) دی،چي د ټولوعلمي موازينو په نظرکي نيولو سره، يو خورا مهم تحقيقي اثر ګڼل کيږي چي وروسته له ډيرو زيارونو، سفرونو، انترويګانو او د افغانانو په باب تقريباً د ټولو ليکل شوو آثارو له لوستلو او څيرنو نه وروسته ليکل شوی او په ١٩٨٩م کال په «آکسفورډ يونيورستي پرس» کي چاپ شوی دی. (٣،د نهم مخ لمنليک)
استاد حميدالله امين د کريستيان ستيونز همدا اثر د خپل کتاب (افغانان په استراليا کي) له پاره د يوه لومړني او معتبرماخذ په ډول په نظرکي ونيو او خپل کار يي پيل کړ، ځيني برخي يي ور نه و ژباړلي او خپلي ليدني،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په څير و لولئ

اوريدني، لوستني او تجربي يې ور باندې ور زياتي کړې. امين صاحب د خپل اثر د پيليزې په يوه برخه کي دې موضوع ته داسي اشاره کوي:
«ما په لومړي سر کي پتيلي وه، تر څو په استراليا کي د...افغانانو په ژوندانه،يو لړ علمي تحقيقات تر سره کړم، خو وروسته مي دا پريکړه بدله کړه. يو خو دا چي د دې علمي څېړني د سرته رسولو له پاره زيات وخت او منابعوته اړتيا وه، چي ما نه درلودل؛ او بل دا چي په وروستيو کلونو کي يو شمير ډير ښه تحقيقي آثار په دې باب له چاپه را وتلي وو... ځکه نو په وروستي پړاو کي مي پريکړه وکړه، تر څو په خاصه توګه د همدې اثر( Tin Mosquss and Ghan Towns) په زړه پوري برخي وژباړم او خپلي ليدني کتني هم پرې ور زياتي کړم ...» (۳، د پيليزې ۸- ۹مخمونه)
دلته په اروپا کي د آثارو د قحطى په بازار کي د يو نيک تصادف له مخي د امين صاحب کتاب ما ته لاس ته راغى. د کتاب په ليدلو سره مي د امين اوږده ونه او علمي درونډ والى غبرګ مخي ته ودريدل، په بيړه مي فوتو کاپي کړ او په مزه، مزه مي ولوست.

د کتاب شکليات په دې ډول دي:

د کتاب نوم: افغانان په استراليا کي
ليکوال: پوهاند حميدالله امين
خپرندوى: رڼا علمي مرکز
...
چاپ کال: ۱۳۸۴ ل / ۲۰۰۶ م کال
چاپځاى: د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه، پېښور

اهدا يې په رښتيا ،اهدا شويو ته لويه معنوى ډالى بللى شو:

«هغو سپيڅلو قهرمانانو ته چي په پردي هيواد کي يې له وياره ډکي کار نامي پرېښي دي.»

د خپرندويې ټولني له يادښت نه وروسته د استاد اسماعيل يون مقدمه راغلي چي د کتاب پيژندګلوي يې په لنډو، خو علمي ټکو کي وړاندې کړې ده. يون د کتاب د ارزښت په باب ليکي:
« افغانان په استراليا کي اثر، پر يوې سريزې پيليزې او له سريزې سربيره، پولس څپرکي لري، چي «اوښنان په استراليا کي» پر موضوع پيل او «د افغانانو کلتوري انحلال » پر موضوع پاى ته رسيږي ...» (۳،د مقدمي ه مخ)
بيا داستاد پوهاند حميدالله امين سريزه (پيليزه) راغلي چي د کتاب د ژباړلو، ليکلو او چاپولو پرعلمي اړتياووخبري شوي دي، او بيا اصل موضوع پيل کيږي.
په کتاب کي د آستراليا په باب د پاملرني وړ معلومات راغلى دى او په ډير لنډيز سره ښودل شوي دي چي د آستراليا پخواني اوسيدونکي توروپوستي وو چي د« Aborigines » په نامه ياديدل او پنځوس زره کاله پخوا له جنوب ختيزې آسيا څخه راغلي خلک بلل شوي دي (پيليزه،۱۱ مخ)
په اروپا کي، هالنديان لومړني خلک دي چي استراليا ته تللي دي. او په ۱۶۰۶ کي يې د استراليا په باب په ليکلي بڼه معلومات وړاندې کړى دي، بيا په۱۷۸۷ م کي انګريزان هغه لومړني خلک وو چي په استراليا کي يې استوګنه غوره کړه او داسي ور ننوتل چي تر ۱۹۰۱م کال پوري يې مستعمره پاتي شوه. (۳،پيليزه،۱۱مخ)
له افغان اوښبنو او د هغوى له اوښانونه مخکي هم استراليا ته د باروړلو او علمي څيړنو له پاره له ځينو هيوادونو نه ځاروي وړل شوي وو.
اروپايانو استراليا ته له خپل ورتګ سره جوخت، له ځان سره آسان او غوايي بوتلل، لومړنى اوښنان له افريقي څخه په ۱۸۴۰ م کي رواړل شول، په ۱۸۴۰م کال کي اوه اوښنان له کلکتي څخه يوړل شول ( ۳، دريم، څلورم او پنځم مخونه)؛ خولومړنيوافغان اوښبنو او اوښانو په ۱۸۶۰ م کال کي په استراليا کي قدم کيښود. استادحميدالله امين ليکي:
«لومړۍ ډله افغانان چي د استراليا په خاوره کي يې قدم کيښود، هغه درې تنه پښتانه کوچيان وو چي د۱۸۶۰ کال د پلټنو او علمي څيړنو د پر مخ بيولو له پاره، له يو شمير اوښانو سره استراليا ته راوستل شول...» ( ۳،۵مخ)
د استراليا په ويکتوريا او نيوساوت ويلزکي د سرو زرو موندل کيدل ډير مهاجرين استراليا ته د ورتګ له پاره وهڅول. په دې مهاجرو کي ځيني انګريزان هم وو چي په هند کي يې په ملکي او نظامي برخو کي کار کړى و او اوس مهال متقاعد وو. په دې ډله کي يو هم جارج جيمزلينډلز( Georg James Landells ) نوميده چي څوارلس کاله يې په هند کي کار کړى و. ده د خپل کار په موده کي د کراچي ا وپيښور تر منځ لاره کي ډير سفرونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

کړي وو، ده په دې لاره کې لیدلي وو چې اوښان او اوښبانه د مالونو د لیږد په وخت کې څومره ستونزمن کارونه تر سره کول.
کله چې د استرالیا د منځنیو برخو د علمي څیړنو د چاج اخیستلو له پاره وړاندیز ومنل شو، بودجه ورته منظور شوه، نو د علمي څیړنو د ښه پرمختګ له پاره با تجربه شخص په کاروو، چې د اووسوو داوطلبانو په منځ کې د ښې تجربې د لرلو په خاطر همدا یاد جارج جیمز لیندلز وټاکل شو، چې اوښان او اوښبانه استرالیا ته راوړي( ۳،۶مخ) او ده هم د خپلې تجربې له مخې افغان کوچیان او د هغو اوښان د دې کار له پاره ډیر مناسب وګڼل.
په دې ډول د نورو ملکونو د خلکو تر څنګ هغه لومړني افغانان چې استرالیا ته ورغلل، دوست محمد، احسان خان او بلوچ خان نومیدل (۳، ص ۷) ویل کیږي چې افغاني اوښانو، په تیره بیا له کندهار څخه راوړل شوو اوښانو د استرالیا له طبیعي شرایطو او اقلیم سره په چټک ډول تطابق وکړ او له نورو هیوادنو څخه د راوړل شویو اوښانو په پرتله، مناسب وګڼل شول(۳،۷مخ) ځکه نو په راتلونک وکلونو کې د همدې جنس اوښانو د راوړلو کار، پسې وغځید.
افغانان پرته له دې چې علمي زدکړې یا تحصیل ولري، د آسترالیا په بیدیاوو کې یې په علمي څیړنوکې ارزښتناکه رول ولوباوه. په استرالیا کې دغو څیړنو ښودلې ده چې په دې علمي سفرونو کې د افغانانو پوهه او تجربې، د څومره اهمیت وړ وې.( ۳،۳۱مخ)
له دې نه وروسته په ۱۸۶۵ میلادي کال کې توماس ایلډر(Thomas Elder) نومي، چې له اوښانو سره یې ډیر سفرونه کړي وو او ښې تجربې یې درلودې؛ ۱۲۴ اوښان او یودیرش تنه افغانان، د کراچۍ له لارې استرالیا ته ورسول او په استرالیا کې یې له اوښانو څخه د ګټې اخیستنې او د اوښانو د روزنې د لومړني مرکز بنسټ کیښود.( ۳،۷مخ)
وروسته په استرالیا کې د اقتصادي شرایطو د خرابوالي له کبله د یوې اوږدې مودې له پاره د اوښانو تجارت بند شو، خو په ۱۸۸۳م کال کې شپږ اوښان او په ۱۸۸۴ کې دوه سوه نه پنځوس(۲۵۹) اوښان، له پنځه دیرش (۳۵) یا څلویښتو(۴۰) تنو افغانانو سره راوستل شول. دغه شمیر اوښان دوو تنو افغانانو راوستل، چې یو فیض محمد او بل تاج محمد نومیده. له دې نه دوه کاله وروسته، ۲۵۰ اوښان، له ی وشمیر نورو افغانانو سره استرالیا ته ورسیدل. په ۱۸۸۷م کې شپږسوه (۶۰۰) نور اوښان، له یو شمیر افغانانو سره، چې مشري یې « میردوست خان» نومي افغان کوله، استرالیا ته ورسیدل.
ویل کیږي چې په ۱۸۹۰ لسیزه کې دوو ورونو، تاج محمد او فیض محمد، دنه سوه (۹۰۰) په شا وخوا کې خپل شخصي اوښان درلودل، چې د سلو په شاو او خوا کې نور افغانان یې څارني او پالنې ته ګمارلي وو.(۳،۸مخ)
توماس ایلډر( Thomas Elder) نومي چې په ډیر شوق د اوښانو کار او بار پیل کړی و، پرېښود او دا کار افغانانو تر لاسه کړ.
د کابل شاو خوا اوسیدونکی،عبدالواحد نومی افغان، په ۱۸۹۳ م کې استرالیا ته د درې سوه څلویښت اوښانو او نه څلویښت افغانانو په راوستلوسره، د اوښانو تجارت پیل کړ. دغه راز په تیر یاد کال کې، سلطان محمد او جمعه خان نومو افغانانو څلور سوه نور اوښان له پنځوس تنو نور افغانانو سره د استرالیا پورت اوګوسته ( Port Augusta) بندر ته و رسول.(۳،۹مخ)
په دې ډول افغانانو په ۱۸۹۵م کې وکولای شول چې په سیمه کې د ځینو اروپایانو په مرسته، د بورکه ( Bourke) په ښار کې د لیږد رالیږد یوه لویه کمپنی را منځ ته کړي چې مشري یې عبدالواحد نومي افغان ته ورله غاړې وه.
ویل کیږي چې عبدالواحد په بلوچستان، کټواز او د افغانستان په ځینو نورو سیمو کې، استازي درلودل، چې د هغو په مرسته به اوښان او اوښبانه، استرالیا ته لیږدول کیدل.
بیا د وخت په تیریدو سره نور افغانان او اوښان استرالیا ته ولیږدیدل او په دې ډول په استرالیا کې د افغانانو او د هغو د اوښانو نسلونه پسې زیات شول.
که استرالیا ته د افغانانو د ورتګ سلسله په دریو برخو و ویشل شي، داسې به وي:
ـ استرالیا ته د کار د درې کلن قرار داد له مخې د افغانانو ورتګ،
ـ استرالیا ته د سیاسي او رسمي ماموریتونو له مخې د افغانانو ورتګ،
ـ استرالیا ته د نورو ستونزو او غوښتنوله مخې د افغانانو ورتګ.
څنګه چې استرالیا ته د لومړنیو تللو افغانانو استوګنه، د لنډې مودې له پاره وه؛ ځکه دوی ته د مهاجرت امتیاز نه و، ورکړل شوی. په هغه وخت کې ډیری راغلي افغانان په انګلیسی ژبه غږیدل، لیک او لوست نه شو کولای.
داسې ځوک نه و چې له پښتو نه انګلیسي ته او له انګلیسي نه پښتو ته ژباړه وکړي؛ ځکه نو له هغه وخت نه په را پاتې اسنادو کې د افغانانو او د دوی د اوښانو په باب معلومات لږ ثبت شوی دی.(۳،۱۱مخ)
د یوه ترخه واقعیت په ډول باید و ویل شي چې استرالیا ته د راتګ له پیل نه افغانانو ته د دوی د زیار او صداقت په اندازه امتیاز نه دی ور کړل شوی، په ټیټه سترګه ور ته کتل شوي، داسې چې په هغو کبنتیوکې چې اوښان راوړل کیدل، دوی به داوښانو د ساتلو په برخه کې ځای پر ځای کیدل او دننه په استرالیا کې به هم په هغو ځایونو کې چې اوښان ساتل کیدل، دوی به هم ځای پر ځای کیدل. وروسته کله چې افغانانو د اوښانو تجارت په خپله هم پیل کړ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوی ته د مهاجرت اسناد ور نه کړای شول، خو کله چي له ۱۸۹۷م کال نه وروسته، استرالیا ته د راتلونک وکارګرانو د ثبت او راجستر قانون نافذ شو، دوی ته د مهاجرت اسناد برابر شول، بیا له ۱۹۰۴م کال څخه وروسته، دوی ته پاسپورتونه ورکړل شول.(۱۱،۳- ۱۲مخونه)
په هغه وخت کي په استرالیا کي د افغانانو د شمیر په باب دقیقه احصایه نه شته، حتی د استرالیا د هغه وخت په مطبوعاتو او رسمي اسنادو کي هم. دلیل یي دا و چي د استرالیا د هغه وخت په احصایو کي افغانان، ترکان، هندیان او نور آسیایان، ټول په یوه ډله کي شمیرل شوي دي. د افغانانو په برخه کي بله ستونزه دا هم وه چي د افغانانو د خپلوکلیو(Ghantowns) احصایه د خاصو ملحظاتو له مخي د افغان مشرانو له خوا سمه نه ورکول کیده.(۳،۱۳مخ)
کومي احصایي چي د استرالیا د هغه وخت په اسنادو کي ثبت او تر اوسه د میدیا په پاڼو کي تر موږ پوري را رسیدلي دي، او امین صاحب هم په خپل اثر(افغانان په استرالیا کي) کي را اخیستي دي، اکثراً اټکلي بڼه لري، څکه له دې زیات څه ویل به په دې برخه کي له تیروتنو سره مل وي.
په استرالیا کي د اوښانو او اوښبنو د داستان پای ۱۹۲۵م کال پوري اړه لري. د وخت په تیریدو سره ورو،ورو نه، بلکي ډیر ژر هر څه بدلیدونکي و، په ۱۹۲۵م کال کي د نوي مدرنیزه ترانسپورتي وسایلو په رامنځ ته کیدوسره، اوښانو د استرالیا په اقتصاد کي خپل ارزښت بایلود، څینو افغانانو څانونو ته نور کارونه پیدا کړل او څیني یي بیرته خپل هیواد ته ستانه شول.
د خواشینی خبره دا ده چي اوښبنو د خپل ژوند خواږه ملګري(اوښان) نور نه شول ساتلای، نه یي د خرڅولو په ډول باندي پوهیدل او نه یي د لوړي مالیي د ورکړي توان درلود، چي د وفادارو ملګرو په ډول یي ساتلي وای؛ نو همغه و چي یا یي له منځه یوړل او یا یي په بې پایه دښتو کي خوشي کړل او دوی له اوښکو ډکي سترګي خپله مخه ونیوله؛ خو له ویاړونو ډکي کار نامي او نښي یي تر نن پوري په استرالیا کي پاتي دي، چي په لیدلو او یادولو یي هر افغان ویاړي. په هغو لارو چي همدي افغانانو او د دوی اوښانو له ویاړه ډک سفرونه کول او د خلکو مالونه یي لیږدول، اوس هم ټګ راتګ کیږي، مالونه او خلک لیږدول کیږي، خو نه د اوښانو په وسیله، بلکي د ریل ګاډو او موټرو په وسیله؛ خو ویاړ او نوم یي افغانانوته پاتي دی. هغه اورګاډي اوس هم دافغانانوپه نامه د « Ghan Express » په نوم ټګ راتګ کوي؛
خو استرالیا ته اوسني ورتلونکي افغان مجبورمهاجرین... مخکي له دې چي استرالیا ته د خپلو نیکونو د ویاړونو او خولو تویولو یادګارونه وګوري، او یا د هغو د نیکو نومونو او نیکو کارنامو په بدل کي یي درناوی وشي او بڼه راغلاست ور ته و ویل شي، په اوبو کي د کبانو خوراک ته استول کیږي.

مآخذونه:
۱- http://www.bbc.co.uk/persian/2012/09/120923_k02-afghan-australia-film.shtml

۲-http://www.darivoa.com/content/afghan-camel-ridders/1513426.html

۳ــ امین،حمیدالله(پوهاند)،افغانان په استرالیا کي،رڼا علمي مرکز،پیښور،۱۳۸۴ ل -۲۰۰۶م کال،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ